# افغانستان

## په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو ساتنه
## د لومړۍ ربعې راپور: د جنوري له لومړۍ نېټې څخه د مارچ تر ۳۱ پورې

د ۲۰۲۱ کال د جنوري د ۱ نېټې او د مارچ د ۳۱ ترمنځ، د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي (یوناما) ۱۷۸۳ ملکي تلفات (۵۷۳ مړه او ۱۲۱۰ ټپیان) مستند کړي، چې د تاوتریخوالي د راکمولو لپاره تدابیرو ته بیړنۍ اړتیا او د سولې یوه پایدونکې تړون ته د رسیدو لپاره بنسټیزه اړتیا په ډاګه کوي. د ۲۰۲۰ کال د لومړۍ ربع په پرتله د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې شمیر ۲۹ سلنه لوړ شوی؛ چې په دې کې همدارنګه د ښځو (۳۷ سلنه) او ماشومانو ۲۳ سلنه) په تلفاتو کې زیاتوالی شامل دی.[1]یوناما له ځانګړې اندېښنې سره د ۲۰۲۰ کال په سپتمبر کې د افغانستان د سولې مذاکراتو تر پیل وروسته په شپږو میاشتو کې د تیر کال د ورته مودې په پرتله ۳۸ سلنه زیاتوالی مستند کړی، چې دا په ډاګه کوي چې روانې خبرې اترې ملکي وګړو ته د زیان په کچه کې د راکمیدو لامل شوی ندی .[2]

د ۲۰۲۰ کال له لومړۍ ربع سره په پرتله په ملکي تلفاتو کې زیاتوالی په عمده ډول د هغو جریانونو/رجحاناتو له امله دی کومو چې د تیر کال په وروستۍ ربع کې د ملکي تلفاتو د زیاتوالي لامل شوی – ځمکنۍ نښتې، په لاس جوړ ځای په ځای شوي چاودیدونکي توکي، او هدفي وژنې ټول هغه لاملونه وو چې د کال په نسبي تود ژمي پرمهال یې ملکي وګړي زیات اغیزمن کړي. سربېره پر دې، د ۲۰۲۱ کال په لومړیو دریو میاشتو کې د جګړې د ښکیلو لورو له خوا د تاوتریخوالي د کموالي په اړه توافق موجود موجود نه و، کوم چې ښايي پر ملکیانو د پام وړ مثبت اغیز درلود څرنګه چې د ۲۰۲۰ کال په فبروري کې په تاوتریخوالي کې د کمښت اونۍ درلود.[3] یوناما په مکرر ډول د دې یادونه کړې چې د اوربندونو پر مهال یې د ملکي وګړو په تلفاتو کې د احساس وړ کموالی مستند کړي. یوناما د جګړې له




---

[1] د ۲۰۲۱ کال د جنوري له ۱ څخه د مارچ تر ۳۱ پورې، یوناما د ۲۰۲۰ کال د ماشومانو د ۴۴۸ تلفاتو (۱۵۳ مړه او ۲۹۵ ټپیان) او د ښځو ۱۶۹ تلفاتو (۵۹ مړه او ۱۱۰ ټپیان) په پرتله د ماشومانو ۵۵۲ تلفات (۱۵۱ مړه او ۴۰۱ ټپیان) او د ښځو ۲۳۲ تلفات (۶۴ مړه او ۱۶۸ ټپیان)

[2] د ۲۰۲۰ کال د اکتوبر له ۱ څخه د مارچ تر ۳۱ پورې، یوناما د تیر کال په ورته موده کې د ۳۳۱۸ ملکي تلفاتو (۱۲۹۰ مړه او ۲۰۲۸ ټپیان) په پرتله ۴۵۸۲ ملکي تلفات (۱۴۶۷ مړه او ۳۱۱۵ ټپیان) مستند کړي.

[3] د یوناما د ۲۰۲۰ کال د لومړۍ ربع راپور، اپریل ۲۰۲۰ په دې انټرنیټي پته وګورئ: http://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports

**یوناما د افغانستان د سولې مذاکراتو تر پیل وروسته په شپږو میاشتو کې په ملکي تلفاتو کې زیاتوالی مستند کړی؛ څرنګه چې د جګړې ښکېلې خواوې د مذاکراتو په حال کې دي، او د روژې مبارکه میاشت د پیل کیدو په درشل کې ده، هغوی باید د ملکي وګړو ساتنې ته لومړیتوب ورکړي.**

ښکیلو خواوو غوښتنه کوي چې ملکي وګړو ته لومړیتوب ورکړي او څرنګه چې هغوی د سولې د مذاکراتو په حال او د روژې مبارکه میاشت د پیل په درشل کې ده، د تاوتریخوالي پر راکمولو توافق وکړي. یوناما دغه راز د جګړې ښکیلو خواوو ته د دې یادونه کوي چې د ۲۰۲۱ کال د فبروري پر ۲۶ نېټه، د ملګرو ملتونو د امنیت شورا یو ځل بیا د ټولو جګړو/دوښمنیو د پای ته رسولو لپاره عمومي او بیړنۍ غوښتنه بیا تاییدوي.[4]

د ۲۰۲۱ کال په لومړیو دریو میاشتو کې، ځمکنیو نښتو تر ټولو زیات ملکي زیان اړولی، چې د ټولو ملکي تلفاتو د ۳۸ سلنې لام دا بلل کیږي، چې په تعقیب یې غیر انتحاري تعبیه شوي چاودیدونکي (۳۱ سلنه) او هدفي وژنې (۱۹ سلنه) د ملکي تلفاتو عمده لاملونه ګڼل کیږي. د ۲۰۲۰ کال د لومړۍ ربع په پرتله، د ځمکنیو نښتو له امله د ملکي تلفاتو شمیر ۵۶ سلنه لوړ شوي، د غیر انتحاري په لاس جوړ ځای په ځای شویو چاودیدونکو توکو له امله ملکي تلفاتو شمیر ۱۱۷ سلنه لوړ شوي، او یوناما د هدفي وژنو[5] په شمیر کې زیاتولای مستند

**د پېښو د نوعیت په اساس ملکي تلفات**

۱ جنوري – ۳۱ مارچ ۲۰۲۱




[4] د امنیت شورا ۲۵۶۵ (۲۶ فبروري ۲۰۲۱)، ۲ پاراګراف.

[5] د ۲۰۲۱ کال په لومړیو درې میاشتو کې په ۲۰۲۰ کال کې د ورته مودې په پرتله د هدفي وژنو د پېښو شمیر ۴۰ سلنه لوړ شوی. د دغه پېښو له امله د ملکي وګړو مړینه لوړه شوې چې د ۲۰۲۱ کال په لومړیو دریو میاشتو کې ۱۷۷ ملکیان وژل شوي، چې د تیر کال په ورته موده کې ۱۶۹ ملکیان وژل شوي وو. د یوناما د هدفي وژنو په شمیرو کې هغه دواړه ملکیان شامل دي چې په نښه شوي یا د نورو افرادو د نښه کولو پر مهال تصادفي اغیزمن شوي. د لا زیاتو معلوماتو لپاره د یوناما د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د ۲۰۲۰ کال د کلني راپور د اصطلاح ګانو برخه وګورئ.

**یوناما د دولت ضد عناصرو له خوا د ملکي وګړو د دوامداره عمدي هدف ګرځولو په اړه، په تیره بیا د هدفي وژنو له لارې، سخته اندېښمنه ده، او یو ځل بیا د دې یادونه کوي چې دغه ډول بریدونه د بشرپالنې له نړیوال قانون څخه جدي سرغړونې دي او ښايي جنګي جرمونه وګڼل شي.**

د ۲۰۲۱ کال په لومړیو دریو میاشتو کې دولت ضد عناصر لا اوس هم د ډیرې ملکي تلفاتو (۶۱ سلنې) مسوول ګڼل کیږي په داسې حال کې چې دولت پلوه ځواکونو د ټولو ملکي تلفاتو نږدې (۲۷ سلنه) هغه اړولي. یوناما دواړو طالبانو (تر ۳۹ سلنې) او افغان ملي اردو (تر ۳۵ سلنې) ته منسوب د ملکي تلفاتو په شمیر کې زیاتوالی مستند کړی، په داسې حال کې چې طالبان د ټولو ملکي تلفاتو د ۴۳.۵ سلنې،[6] او افغان ملي اردو د ۱۷ سلنې مسوول ګڼل کیږي.[7]

یوناما د دولت ضد عناصرو له خوا د ملکي وګړو د دوامداره عمدي هدف ګرځولو په اړه په تیره بیا د هدفي وژنو له لارې چې زیات شمیر خلک یې "ترور" بولي، سخته اندېښمنه ده.[8] د ۲۰۲۱ کال په لومړۍ ربع کې، دغو بریدونو دوام درلود، لکه کړی، په داسې حال کې چې ځانمرګو بریدونو او هوایي بریدونو کم شمیر ملکي تلفات اړولي.

## د ښکېلو ډلو لخوا په وسله واله جګړه کې ملکي تلفات

۱ جنوري – ۳۱ مارچ ۲۰۲۱




[6] یوناما د جنوري د ۱ او مارچ د ۳۱ ترمنځ طالبانو ته ۷۷۹ ملکي تلفات (۲۲۹ مړه او ۵۵۰ ټپیان) منسوب کړي.
[7] یوناما د جنوري د ۱ او مارچ د ۳۱ ترمنځ افغان ملي اردو (د افغان هوايي ځواک په ګډون) ته ۲۹۹ ملکي تلفات (۹۴ مړه او ۲۰۵ ټپیان) منسوب کړي.
[8] په افغانستان کې د بشري حقونو د مدافعینو، ژورنالستانو، رسنیو د کارمندانو د وژنو په اړه د یوناما ځانګړی راپور په لاندې انټرنټي پته وګورئ:
http://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports

د رسنیو د کارمندانو، د مدني ټولنې د فعالینو، د قضایي قوې او د حکومت د ملکي اداري د غړو په تیره بیا د ښځو د هدف ګرځولو د اندېښمنوونکي جریان په ګډون، په نښه کولو دوام درلود. د مثال په ډول د جنوري پر ۱۷ نېټه، په کابل ښار کې پر موټر سایکل سپرو وسله والو د سترې محکمې دوه ښځینه قاضیانې داسې مهال ووژلې او د هغوی موټر چلوونکی یې ټپي کړ، کله چې خپل دفتر ته پر لار وې. د دغه برید مسوولیت کوم لوري پر غاړه نه دی اخیستی. په یوه بل مثال کې، د مارچ په ۲ نېټه په جلال اباد ښارې کې د یوې ځایي راډیو سټیشن درې ښځینه کارکونکې د وسله والو له خوا داسې مهال ووژل شوې کله چې له کار څخه کور ته پر لار وې. د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې د دغه برید مسوولیت پر غاړه واخیست.

یوناما یو ځل بیا د دولت ضد عناصرو ته د دې یادونه کوي چې د نړیوال قانون له مخې د ملکیانو عمدي په نښه کول منع دي او جنګي جرم ګڼل کیږي. مرستندویه ماموریت له دولت ضد عناصرو غوښتنه کوي چې د ملکي شخص هغه تعریف تطبیق کړي کوم چې له نړیوال قانون سره سمون لري او دا چې زر تر زره د ملکي وګړو ټولې هدف ګرځونې پای ته ورسوي.

یوناما یو ځل بیا پر پراخو سیمو د اغیز ښیندونکو چاودیدونکو وسلو د کارونې په اړه د خپلې اندېښنې یادونه کوي. د مثال په ډول د مارچ پر ۱۲ نېټه، د بلخ ولایت په شولګره ولسوالۍ کې د طالبانو او افغان ملي اردو ترمنځ د ځمکنۍ نښتې پر مهال غیر مستقیم وسله/مرمۍ په یوه کور ولګیده چې یوه دوه کلنه نجلۍ یې ووژله او نهه نور ملکیان ټپیان کړل چې زیاتره یې ماشومان وو. یوناما د دغې پېښې مشخص لوری معلوم نه کړای شو او له همدې امله یې پېښه په ګډه دواړو لورو ته منسوب کړه.

## یوناما طالبانو او افغان ملي اردو دواړو ته منسوب د ملکي تلفاتو په شمیر کې زیاتوالی مستند کړی.

د دولت ضد عناصرو له خوا د غیر انتحاري چاودیدونکو توکو د کارونې له امله په ملکي تلفاتو کې دوامدار زیاتوالی د اندېښنې وړ دی، کوم چې د ۲۰۲۰ کال په لومړۍ ربع کې د ملکي تلفاتو د ثبت شوي شمیر په پرتله ۱۱۷ سلنه لوړ شوی. د غیر انتحاري چاودیدونکو توکو له امله زیاتره زیان د چسپکي او/یا ریموټ کنترول چاودیدونکو توکو د چاودنې له امله رامنځ ته شوی، چې له امله یې یوناما په ۲۰۲۰ کال[9] کې د ورته مودې په پرتله د ملکي تلفاتو په شمیر کې ۲۱۵ سلنه زیاتوالی مستند کړی. یوناما همدارنګه غیر ځانمرګي موټر کې ځاي په ځای شوي چاودیدونکو توکو په شمیر کې زیاتوالی مستند کړی.[10] د مثال په ډول د فبروري پر ۲۱ نېټه په کابل ښار کې، د چاودیدونکو توکو یو ریموټ کنترول بم چې د سړک د غاړې په ګلدان کې ځای پر ځای شوی و، هغه مهال چاودنه وکړه کله چې د کورنیو چارو د وزارت د یوه ملکي چارواکي موټر له هغې لارې تیرده. دا چاودنه د افغان ملي پولیسو د دریو ملکي افسرانو او د یوه اووه کلن لاروي هلک د وژنې او د ۱۳ ملکیانو (اته سړي، دوه ښځې، او درې نجونې) ژوبل شوي. د دې بر عکس، یوناما په لاس جوړ ځای په ځای  شویو چاودیدونکو توکو د فشاري ماینونو له امله د رامنځ ته شویو ملکي تلفاتو په شمیر کې کموالی مستند کړی،[11] کوم چې یو هیله بخښوونکی جریان ګڼل کیږي، که چیرې دوام ومومي، نو کولای شي چې د ژوند ژغورلو په اړه رغنده اغیز ولري.

د ۲۰۲۱ کال په لومړیو دریو میاشتو کې د هوایي بریدونو له امله د ملکي تلفاتو عمومي کمښت، د نړیوال نظامي ځواکونو له خوا د هوایي بریدونو له امله ملکي تلفاتو کې کموالي ته

[9] د ۲۰۲۱ کال د جنوري د ۱ او د مارچ د ۳۱ ترمنځ، یوناما د چسپکي او/یا ریموټ کنترول چاودیدونکو توکو د چاودنې له امله ۳۴۷ ملکي تلفات (۶۳ مړه او ۲۸۴ ټپیان) مستند کړي، کوم چې په ۲۰۲۰ کال په ورته موده کې ۱۱۰ ملکي تلفات (۱۷ مړه او ۹۳ ټپیان) وو.

[10] د ۲۰۲۱ کال د جنوري د ۱ او د مارچ د ۳۱ ترمنځ، یوناما د غیر انتحاري موټر بمونو له امله په ۲۰۲۰ کال کې د ۲۵ ملکي تلفاتو (۱۰ مړه او ۱۵ ټپیان) په پرتله ۶۵ ملکي تلفات (شپږ مړه او ۶۵ ټپیان) مستند کړي.

[11] د ۲۰۲۱ کال د جنوري د ۱ او د مارچ د ۳۱ ترمنځ، د په لاس جوړ ځای په  شویو چاودیدونکو توکو فشاري ماینونو په ۲۰۲۰ کال کې د ورته مودې د ۱۱۰ ملکي تلفاتو (۴۷ مړه او ۶۳ ټپیان) په پرتله ۹۳ ملکي تلفات (۴۴ مړه او ۴۹ ټپیان) اړولي.

منسوب شوی دی[12]، چې بله برخه کې د افغان هوایي ځواکونو ته منسوب شویو ملکي تلفاتو په شمیر کې د ۲۰۲۰ کال د ورته مودې په پرتله د ۳۱ سلنې زیاتوالی له امله یاد کمښت معکوس ثابت شو[13]. په یوه پیښه کې، د جنوري په ۱۰مه، د نیمروز ولایت د خاشرود په ولسوالۍ کې، د هوایی برید په پایله کې چې د افغان هوایي ځواک لخوا د طالبانو په نښه کولو په موخه ترسره شوی و، د اوه انجونو، شپږو ښځو او څلور هلکانو په ګډون، ۱۸ تنه ملکي وګړي ووژل شول او دوه ملکي سړي ټپيان شول. د افغانستان حکومت د دغو ملکي تلفاتو راپورونو په اړه سمدلاسه غبرګون وښود، او څرګنده یې کړه چې د دې پیښې د جزئیاتو د مالومولو لپاره تحقیقات روان دي[14]. یوناما د تل په څیر د ملکي تلفاتو ادعاوو ته د ورته غبرګونونو هرکلی کوي، او ټینګار کوي چې د دا ډول تحقیقاتو پایلې باید په وخت سره د خلکو سره شریک کړای شي.

همدارنګه د ۲۰۲۱ کال لومړیو دریو میاشتو د هغو مثبتو رجحاناتو دوام په ګوته کړ ی ، کوم چې په ۲۰۲۰ کال کې پیل شوي و، چیرې چې د تیرو کلونو په پرتله، د نړیوالو ځواکونو د هوایي بریدونو او د دولت ضد عناصرو ځانمرګي بریدونو له امله نږدې د نشت برابر ملکي تلفات رامنځته شوي. لکه څنګه چې د یوناما د ۲۰۲۰ کال د ملکي وګړو ساتنې په راپورونو کې یادونه شوې، متحده ایالاتو او طالبانو ترمنځ د ۲۰۲۰کال د فبروری د ۲۹ نیټې د موافقې راهیسې د یادو پیښو ډولونو د پام وړ لږ ملکي تلفات اړولي دي.

یوناما د ۲۰۲۱ کال په لومړیو دریو میاشتو کې د ۲۰۲۰ کال د ورته مودې په ورته کچه په روغتیا او معارف د بریدونو دوام په اړه اندیښنه لري[15]. په یادو بریدونو کې هغه مستقیم بریدونه او جګړې شامل دي چې ښوونځیو، روغتونونو او د هغوی پرسونل ته یې تصادفي زیان رسولی دی. د ځانګړې اندیښنې وړ خبره د مارچ په ۳۰ نیټه، په جلال آباد کې د ګوزڼ واکسین کمپاین باندې د دولت ضد عناصرو لخوا تنظیم شوی برید دی چې په دوه جلا حملو کې یې درې ښځینه واکسیناتوران وژلي دي. په عین ورځ، د جلال آباد په ښار کې، د په لاس جوړ ځای په ځای شوی چاودیدونکي توکي د ګوزڼ واکسین دفتر ته زیان ورساوه او د ګوزڼ واکسین یوه بله ښځینه کارکوونکې د برید څخه روغه ووتله. سرچینو دا بریدونه د داعش خراسان ډلې ته منسوب کړي، که څه هم کومې ډلې یې مسؤلیت پر غاړه نه دی اخیستې. د کوویډ-۱۹ دوامداره ناروغۍ شرایطو په مهال، د اړوندو واکسینونو د پیلولو او د کوویډ-۱۹ وبا له امله د ګوزڼ په واکسینونو کې د ځنډ د رامنځته کولو ته په پام کې نیولو سره، دا بریدونه په ځانګړې توګه وحشتناک دي[16].

## میتودولوژي

*د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د خپلو راپورونو په پار، یوناما په خپلو راپورونو کې یوازې تایید شوي ملکي تلفات شاملوي. ملکي تلفات د "تایید شویو" هغو په حیث هغه مهال ثبت کیږي، چې د یوناما له خوا د کتل شویو معلوماتو د بشپړتیا پر بنسټ دا په ډاګه شوې وي، چې څرګند او قانع کوونکي شواهد شتون ولري چې ملکي وګړي وژل شوي یا ژوبل شوي. د دغه معیار د پوره کولو لپاره یوناما لږ تر لږه درې ډوله مختلفو او خپلواکو سرچینو ته اړتیا لري لکه قرباني، شاهدان، روغتیایي کارکوونکي، ځایي چارواکي، په جګړه کې د ښکیلو غاړو له خوا تایید، قومي مشر او یا نورې سرچینې. چېرې چې شونې وي، معلومات د قربانیانو یا د پېښو د عیني شاهدانو او د پېښې د ځای د حقیقت موندنې د هڅو له لومړنیو سرچینو څخه تر لاسه*

---

[12] د دغه راپور د خپریدو په وخت کې، یوناما د ملکي تلفاتو پیښې نړیوال نظامي ځواکونو ته نه دي منسوب کړي چې د ۲۰۲۱کال د جنوري د ۱ څخه د مارچ تر ۳۱ پورې پیښې شوي وي، مګر د دا ډول پیښو د معتبر ادعاوو تعقیب ته یې دوام ورکړی.

[13] د ۲۰۲۱ کال د جنوري د ۱ څخه بیا د مارچ د ۳۱ پورې، یوناما د افغان هوای ځواک ۲۲ هوایي بمباریو له امله ۸۵ ملکي تلفات (۴۱ مړه او ۴۴ ټپیان) ثبت کړي، پداسې حال کې چې د ۲۰۲۰ کال په ورته موده کې، یوناما د یادو ځواکونو د هوایي بریدونو لخوا د ۱۳ پیښو څخه ۶۵ ملکي تلفات (۳۳ مړه او ۳۲ ټپیان) ثبت کړي و.

[14] په ټویټر کې د ولسمشر غني لخوا د خواشینۍ پیغام ته مراجعه وکړئ: https://twitter.com/ARG_AFG/status/1348597675701248002

[15] د ۲۰۲۱ کال په لومړیو دریو میاشتو کې، یوناما د روغتیا پاملرنې پروړاندې ۲۱ بریدونه او د معارف پروړاندې ۱۳ بریدونه ثبت کړي ، په داسې حال کې چې د ۲۰۲۰ کال په لومړیو دریو میاشتو کې د روغتیا پر وړاندې ۱۸ بریدونه او د معارف پر وړاندې ۸ بریدونه ثبت کړي وو.

[16] پدې اړه د یونیسف مطبوعاتي خبرتیا ته مراجعه وکړئ: https://www.unicef.org/press-releases/polio-vaccination-campaigns-resume-afghanistan-and-pakistan-after-covid-19.

*کیږي. چېرې چې یوناما د ملکي تلفاتو د معلوماتو د کمیت یا کیفیت په اړه ډاډمنه نه وي، نو هغه د تایید شویو په حیث په پام کې نه نیسي. نا تایید شوې پېښې په دغه راپور کې نه دي شاملې شوي. یوناما ادعا نه کوي چې په دغه راپور کې وړاندې شوې احصائیې بشپړې دي او دا مني چې په عملیاتي چاپېریال کې په تیره بیا د هغو ننګونو په پام کې نیولو سره چې د کووید-۱۹ وبا له امله د تګ راتګ په اړه د وضع شویو محدودیتونو له امله رامنځ ته شوي، د ملکي وګړو مرګ ژوبله په بشپړ ډول نه وي راپور شوې.*

د لا زیاتو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د یوناما کلنیو راپورونو ته مراجعه وکړئ، کوم چې پر راتلونکې انټرنټ پاڼه د لاس رسي وړ دي:
http://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports